احسان الله آرین زی ۲۰۱۰/۱۰/۵

مارغه زرین

څنګه چې له ستوریو ډکه شپه په هغه تور اس چې د زرو په رنګ زین یې درلود په بېړه وتښتیده او اسمان د خدای پاماني د نښې په توګه خپله سهارنۍ پرخه تویې کړه، د اسمان په ختیځو لمنو کې سهارنۍ په زړه پورې رڼایې راښکاره شوه. رڼا ورو- ورو د غرونو له شا څخه پورته شوه او خپل زرین وزر یې په داسې څوکو خواره کړل چې پاس په سپینو واورو پوښلی وې؛ خو لمنې یې په شنو ورشوګانو ښایسته ښکاریدې. د دغه غرونو د ځینو برخو ډبرین جوړښتونه تل د ځایې او مساپرو مرغانو کورباڼه وو. په دغه سهار هم د راز - راز مرغانو غږونه د هغه سیندګې د اوبو له غږ سره یو ځای کېدل چې د درې په مینځ کې رواني وې. لاندې کلي هم له خوبه راویښیدل او په هر شي کې د ژوند ساه پو کېدله.
په دغسې یوه ښکلې سهار کې د مرغانو جارچې ټول مرغان خبر کړل چې د چینې اړخ ته راټول شي چې د ستر لیږد په هکله وروستۍ خبرې وشي. لږ شیبه وروسته په سلګونو کوچني او لوی مرغان هلته راټول شول.
یو ځوان مرغه لومړی لمر ته وکتل او بیا یې وویل:
- دوستانو او ملګرو، لکه چې تاسې خبر یاست زموږ ځینو خپلوانو او همزولو پرېکړه کړې چې له دې ځایه ولاړشي. د تلونکې ډلې مشر په دې اند دی چې ژوند دلته ډېر بې خونده دی، د ی وایې چې موږ باید یو ستر هدف ولرو، هسې الوتل، د دې وړوکې سیمې په غرونو تاویدل، لږ خوراك او اوږده - اوږده خوبونه هغه څه دي چې دی یې خپه کړی. دی وایې چې موږ مرغان کېدای شي چې د مارغه زرین په نامه یو مشر ولرو، دی فکر کوي چې د مارغه زرین لیدل د ده له پاره یوه ستره نېکمرغي ده. دی وایې چې هغه یو خپلواکه، زړه ور او په ښکلا مین مارغه دی چې له دې ځایه ډېر لیرې، د طبیعت په ښکلې غیږ کې له خپلو ملګرو او بچیانو سره اوسي او ډېر نیکمرغه مارغه یې بللی شو.
ځوان مارغه خپلې خبرې لنډې کړې:
- اوس نو ده پرېکړه کړې چې له خپلو ډېرو ملګرو سره د رڼا د غره په لور او د مارغه زرین د موندلو په لټه له دې ځایه لاړشي. په میاشتو - میاشتو والوزي او خپل ارمان پوره کړي. هر هغه څوك چې غواړي په دې ستر لیږد او اوږده سفر کې ملګري وي، خپل وزر دې وخوځوي.
یو څو کورنۍ کوترې اونورې وړې مرغۍ سمدلاسه والوتې اوهلته لیرې د غره په ډېرو کیناستې. دوی نه غوښتل چې په دې ښکلې دره کې خپل خوږ ژوند له لاسه ورکړي. یوې کوترې نورو ته وویل:
- موږ یو له بل سره ښه نیکمرغه ژوند لرو. دانه شته، اوبه شته، د خوب ځایونه شته، دخلکو کورونو ته ورځو، الوتلای شو، ځالې لرو، چوچیان زیږوو؛ نو څه غواړو؟ دا مرغان لیونیان شوي دي چې په نیکمرغي پسې لیرو- لیرو ځایونو ته ځي او ډېرې ستونزې ګالي. وړې به شي، تږې به شي او له ښکارځنو سره به مخامخ شي...
د کوترې خبرې کاغیو واوریدې، د کاغیو ډله له اوله هم جلا ناسته وه او د مرغانو په ستره غونډه کې یې برخه نه وه اخیستې. یوه کارغه وویل:
- دا مرغان لیونیان شوي دي، ځانونه لږ غټ او زورور ورته ښکاري، اوس غټې- غټې خبرې کوي. ژوند همدا دی چې موږ یې لرو. بله خبره پکې نشته.
هلته د مرغانو په ستره غونډه کې د تلونکې ډلې مشر چې ګوربت بلل کیده نورو ته وویل:
- موږ د رڼا او ښکلا د غره په لور الوځو. دا چې هغه څومره لیرې دي زه هم سم نه پوهېږم ؛خو دومره مې اوریدلې دي چې د میاشتو مزل دی. له غرونو، ډاګونو، ځنګلونو، سیندونو او... څخه به ډېر لیرې کېږې او بیا به مارغه زرین وینې!
یو څو مرغانو د لارو په ستونزو خپګان ښکاره کړ او له ډلې څخه والوتل.
ګوربت وویل:
- هو ملګرو دا د نازولو سفر نه دی، دا د هوډیالیو سفر دی، هغه چې په هدف ایمان لري، ژوند ستر بولي، د ژوند ارمانونه ورته سپیڅلې ښکاري او یوازې په خوږلو، څښلو، پریوتلواو لنډو- لنډو الوتلو بسیا نه کوي، دا د هغو سفر د ی چې د اوږدو مزلونو مینه لري، په خپلواکۍ پسې ګرځي، خپلواکۍ غواړي، د خپلواکۍ له لیلا سره مینه کوي او دعزت او برم مرګ غواړي.
ګوربت له دې خبرو وروسته لږ وړاندې والوت او په نورو یې غږ وکړ چې تلونکې ډله دې په ده پسې لیکه شي.
کله چې په سوونو لوی او کوچني مرغان په ګوربت پسې کتار شول، ګوربت خپلو شااو خوا غرونو، پاسنیو واورو،لاندنیو شنو ورشوګانو، د درې د مینځ اوبو او خپلو ټولو دوستانو،همزولو اوملګرو ته په ځیره وکتل، وزر یې

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

وخوځول او والوت. په ده پسې په سلګونو نور مرغان هم والوتل او یوه ستره ډله د رڼا او د ښکلا د افسانوي غره په لور والوته چې مارغه زرین ومومي.
مرغان وايي چې د پسرلي یوه روځ عبث تېره شي، لکه ټول پسرلی چې له لاسه وتلی وي!
ګوربت په پاڅېدو کې خپلو همزولو ته دا خبره وکړه او دوی ته یې د دې تګ له امله مبارکې وویله، دوی یې زړور وبلل او هیله یې ښکاره کړه چې د رڼا او ښکلا غره ته به رسي او مارغه زرین به مومي!
د لمر وړانګې لور په لور خورې شوې وې چې د مرغانو ستره ډله له خپلې سیمې څخه تېره شوه. غرونه، کلي، کورونه او ورشوګانې یې شا ته پرېښودل. د ډېرو زړونه د مارغه زرین د لېدلو په مینه ډك وو، دوی هوا څېروله او ورو- ورو پاس ختل.
ګوربت خپلو نژدې ملګرو ته ویل:
- موږ د رڼا او ښکلا د غره په لور ځو، دا ډېره اوږده لار ده، ما اوریدلي چې د رڼا او ښکلا غر، ډېر جګ، ډېر پلن او ډېر اوږد دی او خورا ستر برم لري. موږ به هله نیکمرغه یو چې هلته ورسیږو. په ژوند کې باید یو ستر هدف پروت وي، دې هدف ته رسیدنګ ژوند دی. موږ اوس له یوې وړې او تیاره سیمې څخه د لویوالي، پراخوالي، سترواليي، رڼا او ښکلا په لور ځو!
په لومړي تمځای کې ځینې کوچني مرغان ستومان او زړه نازړه ښکاریدل. ګوربت دې ډلې ته لنډې خبرې وکړې:
- تاسو لا دغه سفر ته تیار نه یاست. ستاسو عمرونه او تجربه لا دومره نه ده چې د رڼا او ښکلا د غره او مارغه زرین د لېدلو په هڅه کې ګډون وکړي. تاسو لا ډېر وخت لرئ، ځئ او بېرته ستانه شئ. ما خو هملته هم غږ کړی و چې اوږد سفر ستر هوډ او کلکه اراده غواړي!
یوه ډله کوچني او یو څو غټ مرغان والوتل او بېرته د خپل ټا ټوبي په لور لاړل. په دې مینځ کې یوه مارغه نورو ته وویل:
- دا لیونتوب دی. خپل کور او کلي پرېږده، لوږه وګاله، تنده وګاله، سترپا وکاږه، خوب مه کوه او سل نورې ستونزې ومنه چې زه مارغه زرین لټوم ! مارغه زرین دی ورك شي او نوم یې دې ورك شي!
ها خوا تلونکی ډله بیا والوته. لاندې په سلګونو کلي یو په بل پسې له سترګو الونیه کېدل او ډېر وړوکې ښکاریدل. د ګوربت ملګرو کلك هوډ کړی وو چې دا هرڅه به پرېږدي او د رڼا او ښکلا غره ته به ځي او هلته به د مارغانو خیالي پاچا مارغه زرین ویني. هغه چې ډېر زړور دی، لوړ الوت کوي، خپلواکه دی او نورهم خپلواکی ته وربولي!
یوه روځ وروسته دا ډله بیا د اوبو د یوې ښایسته چینې څنګ ته کوزه شوه چې یو څه وخوري او یو څه وڅښي. ګوربت ولیدل چې د لارې یو څو انډیوالان بېرته ګرځېدلي او یو څو نور ډېر ستومانه ښکاري. په تېره بیا ځینې ډېر تنکي او کوچني مرغان خو دومره ستومانه وو چې په سترګو کې د اوښکو څاڅکي له ورایه بریښیدل.
ګوربت دوی ته په ځیره وکتل او وې ویل :
- ګورئ ملګرو، دا لاره ډېره اوږده ده. ډېرې ستوماني په مخ کې دي. لوږې به وینئ، تندې به زغمئ، له ډاګونو سره به مخامخ کیږئ، وریځې به راځي، توپانونه به الوزي، وربښتونه او تودوخې به وي، یخني به مو ډاډه کړي. زه خو دا سترې مزل هرومرو وهم. ستاسې خوښه چې ملګرتیا کوئ که نه؟ ستونزمني روځې شپې په مخکې دې هر هغه څوك چې نه غواړي لاړ شي په مخه یې ښه. هر هغه څوك چې ځان ستومانه ورته ښکاري بېرته دې وګرځي. هر هغه څوك چې ډېرې ستونزې نه شي زغملی اوس دې لاره بېله کړي. زه په دې نه خپه کېږم. اوس د بېرته تګ لار شته؛ خو یو څو روځې وروسته د بېرته ګرځېدو امکان هم نشته او بیا به هرومرو په مخ ځو!

***

کله چې میاشت نوې شوه او د مرغانو ډلې دمه جوړه کړه، ګوربت پاڅېد، خپله مښوکه یې په سرو ګلانو کې پاکه کړه او ملګرو ته یې وویل:
- زموږ ډله کمکی شوې ده ، په تېره یوه میاشت کې ځینې تلونکي له سترپا، لوږې او تندې څخه مړه شول، ځنې د لمر تودوخې بې سیکه کړل او پاتې شول. ځینې د مزله سختیو وډار کړل او بېرته وګرځېدل. ځینې تنکې زلمیان وو او لا د خپلواکی په ستونزو نه پوهېدل او خپلو هوسونو بېرته تګ ته وهڅول؛ خو ډېر لا تکړه دي او تګ ته هوډمن ښکاري؛ نو راځئ چې سبا سهار د لمر په لور پورته شو او ډاډه شو چې د رڼا او ښکلا ښایسته غره ته ورسو، هغه غر چې ټوله رڼا ده، ټوله ښکلا ده، د ټولې نړۍ ښایست پکې پروت دی، د لمر وړانګې تل ځلیدونکې وي او لنډه دا چې د سترو امیدونو او ارمانونو د رسېدو او ځلیدو تلپاتې ټاټوبی دی.
په شنه سهار کې د مرغانو ډله والوته. لږ پاس د لمر نوې وړانګې د دوی په رنګارنګ ښکو ولګېدې، د ځینو مرغانو وزر د سمندر د کراره څپو په شان ورو- ورو خوځېدل او خپل- خپل کسان یې د رڼا، لمر او زرینو وړانګو په لور پورته کول.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په لاره کې د کارغانو یوه ډله د وچو ونو په سپېرو څانګو ناسته وه. یوه کارغه چې د رڼا په لور د تلونکو مرغانو ډله ولیده وې ویل:
- سلام. .. ستړي مه شئ. ډېر ستومانه ښکارئ! پردې ښکارئ او لکه چې له لیرې ځایه راغلي یئ. ډېره موده کېږي چې ښایسته مرغان مونه دې لیدلي!
ګوربت ځواب ورکړ:
- هو موږ د لیرې ځایو پردیسیان یو. ستومانه به ښکارو؛ خو هوډ مو ډېر پوخ دی. غواړو چې د رڼا او ښکلا غره ته ورسو، مارغه زرین وګورو او ځانونه د خپل واك وبولو!
یوه کارغه ورته وویل:
- پخوا هم نورو دا خبرې کړې؛ خو مارغه زرین نشته او داسې غر هم نه دی لیدل شوی.
ګوربت ځواب ورکړ:
- تر څو پورې چې رڼا ژوندی وي او د خلکو مینه پې راځي او ترڅو پورې چې ښکلا ستایل کېږي او د خپلواکۍ د ناوې سپینې جامې ښایسته ښکاري، د رڼا او ښکلا غر به هم هسکه غاړه ولاړ وي او مینان به ځانونه ورسوي.
ګوربت دا وویل او پورته شو. شااوخوا وزرې وغوړېدې او د مرغانو سیل هوا ډکه کړه.
په لاره کې ګوربت خپلو ملګرو ته ویل:
- کله - کله داسې پېښیږي چې د لارې ستونزې ډېرې وي ؛خو هدف ډېر ستر دی. موږ د رڼا په لور ځو، ښکلا ستایو او وړانګې لټوو؛ نو وزرې پراخه کړئ او هوډ پیاوړی و لرئ!
له دې ځایه وروسته لاندې هېڅ شین ټکی نه ښکارېده. ستر او پراخه ډاګونه په مخ کې وو او د لمر تودوخې ښکې سوځولې.
ګوربت فکر کاوه. ځان او خپلو پچیانو ته ډوډۍ پیدا کېږي، ځاله به هم تیاره وي، شا او خوا به دانې هم پرتې وي، هلته لیرې به ویاله هم بهیږي؛ خو دا ډېر واړه ارمانونه دي. زه باید ستر- ستر ارمانونه وروزم ، په دنیا کې د ننګیالیو همدا کار دی. په غونډیو به نه ایسارېږو، موږ باید د جګو غرونو شهبازان شو!
په بل دمه ځای کې ځینو مرغانو ګوربت ته وویل:
- وګوره ځینې مرغان د ځالې او خوړو له پاره ځغلي، خپل بچي روزي، ښه خوري او شه څښي. لکه چې دوی پوره خپلواکه دي!
ګوربت ځواب ورکړ:
- دا منم چې ځینې داسې دي ؛خو ما یو وخت د یوه وړوکي کب کیسه لوستې وه چې په یوه لویشت ځای کې تګ او راتګ خپه کړی و او غوښتل یې چې په ویاله کې ښکته پورته وګرځي، لویه نړۍ ووینې او د ویالې پای ومومي!
وایي چې د وړوکي کب مور، پلار، مشرانو او خپلوانو ډېر ورته ویلي و چې ویاله پای نه لري او نړۍ همغه ځایګی دی چې موږ پکې اوسو؛خو وړوکی کب دا نه منله او ټول وجود یې دی ارمان په سر اخیستی و چې د ویالې پای ته لاړ شي او وګوري چې په نورو ځایونو کې څه خبرې دي؟
زه هم اوس غواړم چې هغه ځایګی پرېږدم چې زه پکې الوتم. هغه ټوله دنیا نه وه. هغه ځای نور د ما له پاره وړوکی ښکاریده. تاسو هم دا خبره راسره ومنله... اوس به ځو او د رڼا او ښکلا غره ته به رسو او د مرغانو پاچا مارغه زرین به وینو.
داسې ښکارېده چې ځنې تلونکې د تګ نه وو او ځانونه یې بېرته ستنېدو ته چمتو کول؛ خو ګوربت پورته شو او په ملګرو یې د تګ غږ وکړ.
په سپېرو ډاګونو د الوتلو څوومه روځ وه، مرغان د لوړې او تندې له لاسه ساتنګې شوي وو، روځې ډېرې اوږدې اود لمر وړانګې سوزونکې وې.
د ګوربت په سترګو کې ستوماني له ورایه ښکارېده او وزر یې پیکه شوی غوندې و.شا ته یې وکتل،د مرغانو شمېرډېر کم شوی وو او په لاس شمارل کېدل.
میاشت بیا راپورته شوې وه چې مرغان شنو ځنګلو ته ورسېدل. له دې مخکې دوی د وریځو له یوه ستر سمندر او وربښت سره مخامخ شوي وو؛ خو ګوربت ورته ویلي و چې وزر ګړندي کړې او له وریځې پورته وخېژئ! له دې ستر ازموېښت څخه وروسته مرغان په ونو کې ښکته شول او د اوبو څنډې ته کېناستل. دوی لا ډېر وخت نه و تېر کړی چې ګلانو خبرې پیل کړې:
- تاسې ښایسته؛ خو ستومانه مرغان چېرې ځئ؟
یوه مارغه ورته وویل:
- موږ ځو چې د رڼا او ښکلا غر ووینو او د مرغانو پاچا مرغه زرین ومومو. هغه موږ ته سپېڅلی ښکاري، لکه چې ډېر باتور، زړور، ښایسته او لوی مارغه دی!
ګلانو ورته وویل:

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

- مارغه زرین نه پېژنو؛ خو دا د رڼا او ښکلا د غره مو اورېدلی دی، ډېر لېرې دی...
گوربت چې دا خبره واورېده په خپلو ملګرو يې غږ وکړ!
- چې داسې ده؛ نو ځنډ مه کوئ، ځئ چې وخوځو.
او د مرغانو کمکی ډله پورته شوه.
روځې او شپې تلې او راتلې؛ خو د مرغانو کمکی ډلې لار وهله. کله په تودوخه وه او کله به ډېره يخنې شوه؛ خو دا مرغان لا هم الوتل. کله به وږې او تږې وو او کله به يې لږ څه وموندل؛ خو دوی لا هم په مخ روان وو او د رڼا او ښکلا د غره کيسې يې کولې، د هغه غره چې تياره نه پېژني او ټول وړانګې - وړانګې دی او څنګ ته يې د مرغانو پاچا مارغه زرين الوځي!
مارغان چې اوس نو د ګوتو په شمار پاتې وو، له ډېرو مزلو وروسته د رڼا او ښکلا هسك پرتمين او ښايسته غره ته نژدې شول. ډېر خوشاله شول او هڅه يې وکړه چې د کيناستو له پاره يو سم ځای ومومي.
لاندې ګوربت خپلو انډيوالانو ته وويل:
- د رڼا او ښکلا غره ته په خير راغلئ، ستړي مه شئ، په هوډ مو برکت! اوس نو راځئ چې دمه وکړو او مارغه زرين ته ورشو.
مرغان يوه اونۍ دغره په شا او خوا والوتل، ډېر څه يې وليدل؛ خو په مارغه زرين يې سترګې ونه لګېدې. مارغه زرين نه و.
نا څاپه ګوربت ته يو فکر پيدا شو او خپلو ملګرو ته يې وويل:
- دا مارغه زرين څوك دی؟ څه شی دی؟ څه کولای شي چې موږ يې نه شو کولای؟ د کوم ستر ارمان له پاره چې موږ را پاڅيدلي وو، د کوم فکر له پاره چې موږ هوسېدو، د کوم نه کېدونکي کار له پاره چې موږ متې راونغښتلي، څومره مزلونه چې موږ ووهل، څومره لوږې، تندې، تودوخې او يخنې چې موږ ولېدې؛ څومره قرباني چې موږ ورکړې؛ نو دا مارغه زرين څوك دی چې موږ نه ياستو!
او چيغې يې کړې:
- ملګرو همدا موږ ياستو. زه خپله مارغه زرين يم. بل مارغه زرين نشته، تاسو خپله ياستئ. تاسو په اتلانو واوښتئ، څوك چې خپل ارمان ته ورسې، هغه هم ستر ارمان ته لکه موږ چې درلود، دا اتلتوب دی. دا ومنئ چې بل مارغه زرين نشته موږ خپله ياستو. زموږ دې مبارك وي! زما دې مبارك وي!
او بيا يې خپلو ملګرو ته وويل
- ښه دمه وکړئ، په غره کې ډېر وګرځئ او خپل وزر له وړانګو ډك کړي او ځئ چې نورو ته د رڼا اوښکلا د غره د وړانګو او د مارغه زرين د زيږيدو زيری ورسو!

پای

دوتنخيم - هالند

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ